مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ ۲۰۲۴/۰۹/۲۷

# د یهودو عادلانه جګړې

## (اووه پنځوسمه برخه)

### د عیسی ظهور (۲)

### خدای پلار، عیسی مسیح زوی او روح‌القدس

وړاندې هم یادونه شوې چې عیسی مسیح د اسراییلو د دیني کړنو برعکس څو ډوله مهم بدلونونه رامنځ ته کړل، لومړی دا چې د اسراییلو خدای یهوه چې یو قومي او جګړه‌مار خدای ؤ، په یو سوله‌ییز او نړیوال خدای بدل کړ او د (یهوه)[1] پر ځای یې (پلار) وباله، ځان یې د هغه زوی او خدای یې په درو برخو: پلار، زوی او روح‌القدس وویشه، چې (تثلیث) یې هم بولي. د عیسویانو په باور، کله چې عیسی له مړیستون پورته شو له خپلو یوولسو مریدانو سره یې د جلیل په غره کې لیدنه وکړه او دنده یې ورکړه چې د نړۍ وګړو ته، د پلار خدای، زوی عیسی او روح‌القدس په نوم د تعمید غسل ورکړئ، عیسی وویل:«د آسمان او ځمکې ټول واک ما ته راکړی شوی دی، تاسو په ځمکه خواره شئ، ټول قومونه زما مریدان کړئ، **د پلار، زوی او روح‌القدس په نامه تعمید ورکړئ.»** (د متی انجیل:۲۸/۱۸تر۲۰پورې)

عیسی چې د اسراییلو قومي خدای ته پلار او ځان یې د هغه زوی وباله، په اصل کې هغه د پلار او زوی انګیزه د یهودو له ګروهو اخیستې ده، د یهودو د شریعت او د تورات اړونده کتابونو کې په لسګونو ځله یهوه خدای پلار او اسرییل د یهوه خدای زامن بلل شوي دي، اړینه ده چې نوموړي اصطلاحات چې د یهودو په بېلابېلو سرچینو کې راغلي دي ولیکو: د نوح له توپان وړاندې د یهودو د شریعت په لومړي کتاب کې د خدای د زامنو په هکله ویل شوي چې د خدای زامنو د انسانانو له لونو سره ودونه وکړل او ځانګړی توکم یې وزېږاوه:«دا مهال چې د انسانانو شمېر د ځمکې پر مخ په ډېرېدو ؤ، **د الوهیم**[2] **خدای زامن** د انسانانو پر ښکلو لونو مینن شول... کله چې **د الوهیم خدای زامن** او د انسانانو لونه سره یو ځای شول نو لوی او غټ، غښ سړي تری پیدا شول...» (د تورات د پیدایښت کتاب:۶/۱-۴)

د اسراییلو پیغمبر موسی په خپله یوه دیني سندره کې د اسراییلو قوم د خدای زامن او خدای یې د هغوی پلار بللی دی، هغه وایي د یهوه «قوم فاسد شوی دی، د هغه لپاره شرم ګرځېدلی دی، **هغوی نور د هغه زامن نه دي**، بلکې بې‌لارې او سرکښ قوم دی، ای احمقه او نادانه قومه! آیا دا ډول د خپل خدای درناوی کوئ؟ **آیا هغه ستاسو پلار او خالق نه دی؟»** (د تورات د ګردان کتاب:۳۲/۵-۶)

یهوه خدای موسی ته دنده سپاري چې فرعون ته ووایه، **«چې اسراییل زما مشر زوی دی،** په دې بنسټ تا ته امر کوم هغوی پرېږده چې له مصره بهر شي او زما عبادت وکړي.» (د تورات د هجرت کتاب:۴/۲۲-۲۳)

---

[1]: د ادیانو څېړونکي وایي چې په (یوناني) ژبه لیکل شوو انجیلونو کې د یهوه نوم یو ځل هم نه دی یاد شوی او د تورات ځینې آیتونه چې په هغو کې د یهوه خدای نوم راغلي او عیسی هغه لوستلي دي د یهوه پر ځای یې پلار یاد کړی دی.

[2]: څېړونکي وایي چې د یهودو قومي خدای د ابراهیم، اسحاق او یعقوب تر زماني پورې د **الوهیم** په نوم یاد شوی دی چې د پیدایښت په کتاب کې د **الوهیم** نوم (۲۰۰) ځله راغلی دی.

د الوهیم نوم د موسی پر مهال په (یهوه) بدل شو، د اسراییلو خدای په خپله موسی ته وایي چې زه (یهوه) یم. ځینې څېړونکي په دې نظر دي چې د اسراییلو خدای یو نه بلکه دوه (الوهیم او یهوه) دي.

د یادولو ده چې موږ په تېرو لیکنو کې د الوهیم پر ځای یهوه لیکلی دی چې د کتاب د چاپ پر مهال به اصلاح شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یهوه خدای له داؤد سره ژمنه کوي وایي چې ستا زوی سلیمان ته به تلپاتي پاچاهي ورکړم او **«زه به د هغه پلار او هغه به زما زوی وي.»** (د سموییل دویم کتاب:۱۴/۷)
داؤد وایي چې یهوه خدای ماته وویل چې «زما کور [معبد] به ستا زوی سلیمان جوړوي ځکه چې هغه مي غوره کړی، **هغه به زما زوی وي او زه به د هغه پلار.»** (د پاچاهانو دویم کتاب:۶/۲۸)
د اسراییلو خدای یهوه، داؤد ته هم خپل زوی ویلي، داؤد وایي چې یهوه خدای ما ته وویل:**« سر له نن ورځې، ته زما زوی یې او زه ستا پلار.»** (د مزامیرو کتاب:۷/۲)
د مزامیرو په یوه بله دیني سندره کې یهوه خدای داؤد خپل مشر زوی بللی، یهوه خدای خپل نبي ته وویل: **«هغه به ما خپل پلار، خپل خدای او ژغورونکې لویه ډبره [ډال] وبولي، زه به هم له هغه سره د لومړي زیږیدلي [زوی] غوندې چلند وکړم.»** (مزامیر:۲۶/۸۹)
د اسراییلو ځانګړی خدای یهوه خپل قوم ته وایي چې «تا د یوې رنډۍ ښځې په څېر شرم او حیا له ځانه لرې کړي دي، سربېره پر دې، بیا هم راته وایې: **اې پلاره! موږ له ورکتوبه پر تا ګران وو،** ته به تر ابده پر موږ باندې په قهر نه وې. دا وایې او بیا هر ډول بدکارۍ کوې.» (د ارمیا کتاب:۳/۳-۴)
یهوه له خپل قوم اسراییلو شکایت کوي وایي چې خپل زامن زما پرخلاف شوي دي:«اې ځمکې او آسمانه! هغه څه چې یهوه خدای وایي غوږ شئ: **هغه زامن چې ما لوی کړي وو، زما پر ضد پورته شوي دي.»** (د اشعیا کتاب:۲/۱)
**«اې اسراییلو! تاسو په هغو ورځو کې زما سپیڅلي قوم او مشر زوی وئ،** که چا به ته ځورولې هغه به مې محکوماوه او په سخته بلا به مې اخته کړ.» (ارمیا:۳/۲)
د اسراییلو قومي خدای وایي چې ما **«غوښتل دلته له خپلو زامنو سره استوګن شم،** په نظر کې مې وه چې دا ښربه ځمکه (چې په نړۍ کې ساری نه لري) تاسو ته درکړم، **په دې هیله وم چې ما ته پلار ووایئ،** هېڅ فکر مې نه کاوه چې بیا به له مانه مخ واړوئ... **اې نااهله او سرکښو زامنو!** د یهوه خدای پر لور وګرځئ.» (ارمیا:۱۹/۳تر۲۲پورې)
د اسراییلو وروستنی نبي ملاکي د یهوه خدای له قوله وایي چې «زوی خپل پلار ته او مریی (غلام) خپل څښتن ته درناوی کوي **نو که چېرې زه ستاسو پلار یم، زما درناوی کوم دی؟»** (د ملاکي پاڼې:۶/۱)
هغه مهال چې د اسراییل شمالي پاچاهي د آشور پاچا لخوا له منځه یوووړل شوه او وګړي یې آشور ته تبعید کړای شول نو یهوه خدای هغوی خپل زامن او ځان یې د هغوی پلار وباله، یهوه خدای وایي:«دوی به په ژړا او له دعا سره بیا راستانه شي. زه به دوی په ډېر پام سره له لویو ویالو تېر او سمې لارې به ورو‌ښایم، ترڅو ونه ښوییږي **ځکه چې زه د اسراییلو پلار یم او هغه زما مشر زوی دی.»** (ارمیا:۹/۳۱)
**«اې زما قومه اسراییله! ته اوس هم زما زوی او زما ګران زوی یې،** اړینه وه چې تا ته سزا درکړم خو پوه شه چې پر تا به رحم وکړم.» (ارمیا:۲۰/۳۱)
د هوشع په کتاب کې ویل شوي:«... هغه مهال چې یهوه خدای د دې پر ځای چې دوی [اسراییلو] ته ووایي چې تاسو زما قوم نه یاست. وبه وایي: **تاسو د ژوندي خدای زامن یئ.»** (د هوشع پاڼې:۱۰/۱)
دا وو هغه مالومات چې د یهودو په سرچینو کې، خدای د پلار او اسراییل د خدای د زامنو په توګه یاد شوي دي چې عیسی مسیح یې تر اغېز لاندې راغلی دی.

## عیسی مسیح د خدای په څېر

د یهودو په دیني سرچینو کې خدای د انسان په څېر بلل شوی او د انسان خلقت یې هم د ځان غوندې ښودلی دی، **عیسی چې خپل ځان د انسان په بڼه د خدای زوی بولي،** دا انګېزه یې هم د یهودو له ګروهې اخیستې ده، د یهودو د شریعت په لومړي کتاب پیدایښت کې ویل شوي چې «په پای کې خدای وویل:**«انسان د ځان غوندې پیدا کوم** چې د ځمکې پر حیواناتو، د سیندونو پر کبانو او د آسمان په الوتونکو باندې حاکم وي **نو خدای انسان د ځان په څېر پیدا کړ** او انسان یې نر او ښځه خلق کړل.» (پیدایښت:۲۶/۱-۲۷)
بل ځای هم راځي چې وایي:**«د انسان وژل جایز نه دي ځکه چې انسان د خدای غوندې خلق شوی دی.»** (پیدایښت:۵/۹)

## عیسی په خدای کې او خدای په عیسی کې

هغه وو چې عیسی خپل ځان د انسان په بڼه د خدای زوی او خدای وباله، عیسی په دې ګروهه ؤ چې خدای او عیسی سره یو دي، وایي چې له دې امله یهودانو په هغه پسې کاڼي راواخیستل چې هغه د خدایي دعوا کوي خو عیسی هغوی ته وویل:«ستاسو په سپیڅلي کتاب کې یې نه دي لیکلي چې (تاسو خدایان یئ؟)[3] **هغه ځوک خدایان بلل شوي، چا ته چې**

[3]: د مزامیرو کتاب دوه اتیایمي دیني سندرې ته اشاره ده چې اسراییلو ته یهوه خدای وویل:«ما تاسو خدایان وبللی او د متعال خدای ستاینوم (لقب) مې درکړ.»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**د خدای کلام ورکړل شوی دی،** سپیڅلی کتاب خو منسوخ کیدای نه شي نو تاسو پر ما د کفر ویلو تور ولې لګوئ؟ یوازې په دې چې زه خدای سپیڅلی کړی یم او نړۍ ته یې رالیږلی یم او دا مې وویل **چې زه د خدای زوی یم؟**... د دې لپاره چې تاسو یې ومنئ او په دې پوه شئ **چې پلار په ما کې دی او زه په پلار کې یم.»** (د یوحنا انجیل:۱۰/۳۴تر۳۸پورې)
«د عیسی یو مرید فیلیپوس هغه ته وویل: مالکه! ته موږ ته پلار وښایه او موږ به نورې خبرې نه کوو. عیسی وویل: فیلیپوسه! زه له تاسو سره له ډېرې مودې راپدېخوا اوسېږم، بیا هم زه مو نه یم پېژندلی؟ **چا چې زه لیدلی یم هغه پلار [خدای] هم لیدلی دی** نو ته څرنګه وایې چې موږ ته پلار وښایه؟ آیا په دې ستاسو باور نه شته **چې زه په پلار کې یم او پلار په ما کې دی؟ زه چې کومې خبرې کوم هغه زه نه کوم، دا پلار دی چې په ما کې اوسي او خپل کار کوي. زه چې دا وایم چې پلار په ما کې دی او زه په پلار کې.»** (یوحنا:۱۴/۸تر۱۱پورې)
عیسی خپلو مریدانو ته وویل چې زه تاسو د یتیمانو غوندې نه پرېږدم، زه بیرته راګرځم، «لږ ساعت وروسته به نړۍوال ما ونهویني خو تاسي به مې وینئ ځکه چې زه ژوندی یم نو تاسو به هم ژوندي یاست. **بیا به تاسو پوه شئ چې زه په خپل پلار کې یم، تاسو په ما کې یئ او زه په تاسو کې یم.»** (یوحنا:۱۴/۱۹-۲۰)
عیسی خپلو کسانو ته وویل چې تاسو په ما ایمان لرئ؟ چې **«زه له خدای څخه راوتلی یم، زه له پلار څخه راوتلی یم** او دې نړۍ ته راغلی یم، اوس زه نړۍ بیا پرېږدم او پلار ته ورځم.» (یوحنا:۱۶/۱۷-۱۸)
عیسی یهودان د شیطان زامن وبلل هغه څرګنده کړه چې که په ما ایمان راوړئ نو آزاد به شئ، یهودانو وویل چې موږ د ابراهیم اولاده یو، موږ هېڅ کله غلامان نه شو کیدلی. عیسی وویل چې تاسې د ګناهونو غلامان یاست، که تاسو د ابراهیم زامن وای نو د هغه په شان کړنې به مو ترسره کولې، تاسو زما په مرګ پسې یئ او د خپل پلار [پلرونو] په شان کړنې ترسره کوئ.
یهودانو وویل:«موږ حرامیان نه یو پیدا شوي، **یوازې خدای زموږ پلار دی.**
عیسی وویل: که خدای ستاسو پلار وای نو تاسو به له ما سره مینه کولی، **ځکه چې زه له خدای څخه راغلی او دلته یم،** زه په خپله خوښه نه یم راغلی، بلکې زه هغه را استولی یم، تاسو ولې زما په خبرو نه پوهېږئ؟ دا ځکه چې زما کلام تاسو اوریدلی نه شئ، **ستاسو پلار ابلیس دی او تاسو د خپل پلار په خوښه عمل کوئ،** هغه له آره قاتل ؤ، هغه رښتینی نه ؤ، په هغه کې هېڅ رښتینولي نه شته، کله چې هغه درواغ وایي له خپل ذات څخه غږېږي، هغه درواغجن او د ټولو دروغویونکو پلار دی، زه چې رښتیا وایم تاسو باور نه پرې کوئ، په تاسو کې کوم یو سړی پر ما ګناه ثابتولی شي؟ که زما وینا رښتیا وي، نو بیا ولې پر ما ایمان نه راوړئ؟ **د هغو کسان چې خدای یې پلار دی، د خدای کلام اوري، تاسو خو د خدای اولاد نه یئ، نو ځکه یې نه اورئ.»** (یوحنا:۸/۴۱تر۴۷پورې)

## عیسی او د ګناهونو ببنل

عیسی ادعا وکړه چې د خلکو د ګناهونو د ببنلو واک لري خو یهودو د هغه پر دغه وینا نیوکه وکړه ویې ویل: هغه کفر غږوي. وایي چې «عیسی ته په کټ کې یو شل سړی راوړل شو، کله چې عیسی د هغوی ایمان ولید نو عیسی هغه سړي ته وویل: **زویه ډاډمن اوسه، ستا ګناه وببنل شوه.**
د عیسی په دې خبره صدوقیانو او د شریعت عالمانو په خپل منځ کې وویل: **کفر یې ووایه.**
عیسی د هغوی په زړونو پوه ؤ چې د دوی په زړه کې څه تېر شول، ویې ویل: تاسو داسې بد خیالونه ولې کوئ؟ آیا دا اسانه خبره ده چې ووایي ګناهونه دې وببنل شول، که دا چې چا ته ووایې: پاڅه په پښو وګرځه؟ د دې لپاره چې ستاسو زړه ته ولوېږي، **ابن آدم [عیسی] ته په نړۍ کې د ګناهونو د ببنلو واک شته.»** (متی:۹/۲تر۶پورې)
سربېره پر عیسی، هغه خپلو مریدانو ته هم واک ورکړی ؤ چې ګناهونه وببنې، په وروستي ځل عیسی خپلو مریدانو ته وربنکاره شو، په هغوی یې روح‌القدس پو کړ او ورته ویې وویل:«په تاسو دې سلام وي، څه ډول چې زه پلار را استولی یم، داسې زه تاسو استوم.
عیسی پر هغوی پو کړ ویې ویل: **روح‌القدس واخلئ! که تاسې د چا ګناهونه وببنئ، نو هغوی وببنلی شول او که تاسو هغه ونه ببنئ نو هغه به نابښلی پاتې شي.»**[4] (یوحنا:۲۰/۲۱تر۲۳پورې)

---

[4]: عیسوي کشیشانو په دې نوم له خلکو پیسې او ډالې ترلاسه کولې چې ګواکې د ګناهکارانو ګناهونه ببني او جنت ته یې لېږي خو په شپاړلسمه زیږدیزه پېړۍ کې ځوان عیسوي کشیش مارتین لوتر د کشیشانو پر خلاف یوه ۹۵ مادمییزه اعلامیه ولیکله او د ویتنبرګ کاتولیکي کلیسا په دروازه یې وځړوله چې له مله یې د عیسویانو د کاتولیک مذهب پر وړاندې د پروتستانو مذهب رامنځ شو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

نېټه:۱۴۰۳/۷/۶ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلی محمد انور اڅړ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ